قرآني بيان

عمل به پۀ کار راځي

د مدني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه امام مساجد (دعوتِ اسلامي)
د انتظام لاندې جوماتونو د پاره

په 24 جولائي، کال 2026ء (بمطابق: 9 صفر شريف، کال 1448ھ)

د جُمعَةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) د انتظام لاندې جوماتونو د پاره
پۀ 24 جولائي، کال 2026ء (بمطابق: 9 صفر شریف، کال 1448ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بیان

پۀ نوم

عمل به پۀ کار راځي

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د بني اِسرائیلو د شفاعت عقیده
- د شفاعت عقیده ساتئ خو---
- د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه عظیم الشانه تقویٰ
- عمل ته ملا کلکه وتړئ

پیشکش
اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة
Islamic Research Center
(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)
For Feedback:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

د دُرُود شريف فضيلت

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ اٰلِهٖ وَسَلَّم: يَا اَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ اَنْجَاكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ اَهْوَالِهَا وَمَوَاطِنِهَا اَكْثَرُكُمْ عَلَيَّ صَلَاةً فِيْ دَارِ الدُّنْيَا۔

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اے خلقو! بے شکه د قيامت پۀ ورځ به د هغې د وحشتونو (يعنې د وېرو) او د حساب کتاب نه زر خلاصے موندونکے هغه وي، چا چې پۀ ما باندې پۀ دُنيا کښې ډېر درود وئيلے وي۔ [1]

مومنو! آپ (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ اٰلِهٖ وَسَلَّم) پر پڑھے جاؤ — با ادب اور با وقار درود
بھاری مرہم ہے دل فگاروں کو — راحتِ جانِ بے قرار درود
نزع میں، گور میں، قیامت میں — ہر جگہ یارِ غمگسار درود

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى فِي الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي):

وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْـًٔا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۴۸﴾ (پاره: 1، سورۂ بقره: 48)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

1... مسند الفردوس، جلد:5، صفحه:277، حديث:8175۔

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او د هٰغه ورځې نه وړاندې پۀ کومه ورځ به چې یو ګس هُم د بل له طرفه بدله نۀ ورکوي او نۀ به څۀ سفارش منلے کیږي او نۀ به ترینه څۀ عوض اخستلے کیږي او نۀ به یې مدد کیږي۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د آیت مبارک مختصر وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ د وړومبۍ سیپارې د سورۀ بقره، د آیت: 48 د اوریدو سعادت حاصل کړو، پۀ دې آیت کښې پۀ بنیادي توګه د قیامت پۀ باره کښې د ځینو نظریاتو نفي شوې ده، بني اِسرائیلو کومو چې به پۀ تورات شریف د اِیمان راوړو دعویٰ لرله، دوئي ته پۀ مکمل یقین سره معلومه شوه چې رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ربښتونے نبي دے، اِسلام ربښتونے دِین دے، د دې باوجود به دې خلقو کلمه نۀ وئیله، اِیمان به یې نۀ قبلولو، د دې چې کومه یوه بنیادي وجه ده، هغه د هغوئي د قیامت پۀ باره کښې غلطې نظریې وې، ځکه د هغوئي د غلطو نظریو نفي اوکړے شوه او هغوئي له د اِیمان راوړو دعوت ورکړے شو، اِرشاد دے:

وَاتَّقُوْا یَوْمًا (پاره: 1، سورۀ بقره: 48)	[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او د هٰغه ورځې نه وړاندې۔

د کومې ورځې نه؟

لَا تَجْزِیْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَیْـًٔا (پاره: 1، سورۀ بقره: 48)	[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: پۀ کومه ورځ به چې یو ګس هُم د بل له طرفه بدله نۀ ورکوي۔

دا د قیامت ورځ ده، د هٰغې ورځې دستور به څۀ وي؟ هیڅ یو کس به د چا بدله نشي کېدے،

يعنې داسې به نۀ کيږي چې پلار غېر مسلمه دے، د هغۀ ځوي مسلمان دے نو داسې دې ووئيلے شي چې غېر مسلمه جَنَّت ته ولېږلے شي او د هغۀ پۀ ځائے د هغۀ مسلمان ځوي دې دوزخ ته وغورځولے شي۔

وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ

(پاره: 1، سورۀ بقره: 48)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او نۀ به ځۀ سفارش منلے کيږي۔

يعنې د هيڅ يو غېر مسلمه پۀ حق کښې به شفاعت نۀ قبلېږي، قبلېدل به ځۀ وي چې ځوک د غېر مسلمو شفاعت کوونکے به هم نۀ وي۔

وَلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۴۸﴾

(پاره: 1، سورۀ بقره: 48)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او نۀ به ترېنه ځۀ عوض اخستلے کيږي او نۀ به يې مدد کيږي۔

يعنې نۀ خو به داسې کيږي چې د چا د جُرم پۀ بدله کښې به فِديه قبوله کړے شي او هغه به د عذاب نه خلاص کړے شي، نۀ به ځوک مسلمان د غېر مسلمه مدد کولے شي۔

داسې ووايئ چې د مدد 4 حالتونه وي: (1): مدد کوونکے چې خپل ملګرے د مَټو پۀ زور خلاص کړي، هغې ته نُصِرَتْ وئيلے شي (2): مدد کوونکے چې خپل ملګرے پۀ سفارش کولو بچ کړي هغې ته شَفَاعَت وئيلے شي (3): مدد کوونکے چې د مُجرم د ذِمې حقونه ادا کړي او بچ يې کړي، هغې ته جزا وئيلے شي (4): مدد کوونکے چې جُرمانه ادا کړي او بچ يې کړي، هغې ته بدله ورکول وئيلے شي۔ د دې څلور قِسمه مدد نفي اوکړے شوه۔ [1] او وه فرمائيلے شو چې د قيامت پۀ ورځ به نۀ خو ځوک غېر مسلمه د مَټو پۀ زور خلاص کړے شي، نۀ به ځوک د دوئي شفاعت کوي، نۀ به د دوئي د ذِمې حقونه ادا کړے شي، نۀ به د دوئي پۀ بدله جرمانه قبوله کړے شي، د قيامت پۀ مېدان کښې به د

1... تفسير روح البيان، پاره:1، سورۀ بقره، زيرِ آيت:48، جلد:1، صفحه:129 خلاصةً۔

غېر مسلمه هيڅ قِسمه مدد نۀ کيږي، ځکه پکار دي چې هم نن د هٰغې ورځې نه وړاندې! او د هغې تياري اوکړئ! اِيمان قبول کړئ! د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کلمه ولولئ او د هغوئ د کرم جولۍ ونيسئ! هم دا يوه د نجات لاره ده-

وہ کہ اُس دَر کا ہوا، خلقِ خدا اُس کی ہوئی
وہ کہ اُس دَر سے پھرا، اللہ اُس سے پھر گیا[1]

وضاحت: څوک چې د حضور نبي آخرُ الزَّمان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارک در غلام جوړ شو، ټوله خُدائي به د هغۀ تابعداره شي، چا چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د در نه مخ واړولو، هغه د رَبِّ کريم د در نه هم ورټلے شو-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د شفاعت عقيده حق ده

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دلته يوه خبره پۀ ښه طريقه پۀ ذِهن کښې کښېنوئ چې د شفاعت عقيده حق ده، د قيامت پۀ ورځ به خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت فرمائي او د هغوئ پۀ وسيله به ټول نبيان، ټول وليان، نېکان خلق، د دې پورې چې حافظان، حاجيان وغېره به هم شفاعت کوي او ګنهګاران به بخښي- د قرآنِ کريم د ډېرو آيتونو مبارکو او د ډېرو حديثونو مبارکو نه دا عقيده ثابته ده-

❁ حضرت حَرب بن سُرَيج رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل زۀ د اِمام زينُ العابدين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د شهزاده اِمام محمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ خِدمت کښې حاضر شوم او عرض مې اوکړو: اے خوږہ اِمامه! عراق والا خلق وائي چې د قيامت پۀ ورځ باندې به خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت کوي- آيا دا شفاعت حق دے؟ حضرت اِمام محمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کوم چې د اهلِ بيت پاک عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د سترګو تور دے، هغوئ وفرمائيل: **پۀ خُدائے**

1... حدائقِ بخشش، صفحہ:53۔

مې دې قَسم وي! شفاعت حق دے- ما ته حضرت محمد بن حَنفِيَّه رَحْمَةُاللهِعَلَيْه حديث بيان کړو، هغوئي د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت عليُّ المُرتضىٰ رَضِیَاللهُعَنْهُ نه حديث شريف اورېدلے دے چې رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان، رحمتِ عالميان صَلَّىاللهُعَلَيْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم فرمائيلي دي: زۀ به د قيامت پۀ ورځ باندې شفاعت کووم، د دې پورې چې زما رَبّ به ما ته وفرمائي: اَرَضِيْتَ يَا مُحَمَّدُ! يعني اے خوږه محبوبه! آيا تاسو راضي شوئ؟ زۀ به عرض اوکړم: رَبِّ! رَضِيْتُ اے زما پاک رَبَّه! زۀ راضي شوم- [1]

حضرت حَرب بن سُرَيج رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: اِمامِ محمد رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د دې حديث شريف بيانولو نه پس وفرمائيل: اے د عراق والؤ! تاسو څۀ ګڼئ چې پۀ قُرآنِ کريم کښې د ټولو نه زيات اُميد ورکوونکے آيت دا دے؟

لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ (پاره:24، سورۀ زمر:53)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: د الله د رحمت نه مۀ نا اُمېده کېږئ-

ما عرض اوکړو: آؤ جي! زمونږ پۀ خيال خو دا آيت ډېر د اُميد والا دے (پۀ دې کښې الله پاک ټولو ګنهګارانو ته فرمائيلي دي چې د الله پاک د رحمت نه مۀ نا اُمېده کېږئ! بے شکه الله پاک ټول ګناهونه بخښي)- اِمام محمد رَحْمَةُاللهِعَلَيْه وفرمائيل: خو زمونږ د ټولو اهلِ بيتو شريکه فېصله ده چې پۀ قرآنِ کريم کښې د ټولو نه زيات د اُميد والا آيت دا دے: [2]

وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى (پاره:30، سورۀ ضحى:5)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او بے شکه نزدې ده چې ستا رَبّ به تا ته دومره درکړي چې تۀ به راضي شې-

د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المُرتضىٰ، شيرِ خُدا رَضِیَاللهُعَنْهُ فرمائي: کله چې دا آيت مبارک نازل شو نو خوږ نبي، ښه نبي، ربښتوني نبي صَلَّىاللهُعَلَيْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم وفرمائيل:

1... مسند بزار، جلد:2، صفحه:239، 240، حديث:638-

2... حلية الاولیا، رقم:224، جلد:3، صفحه:209، 210، حديث:3725-

اِذًا لَّا اَرْضٰى وَاَحَدٌ مِّنْ اُمَّتِیْ فِی النَّار يعنې (چې دا وعده چې رَبِّ كريم به ما راضي كوي نو) پۀ الله پاک مې دې قَسم وي! بيا خو چې د څو پورې زما يو اُمتي هم پۀ دوزخ كښې وي، زۀ به هډو راضي كېږم نۀ۔ (1)

❁ پۀ 15 سيپاره، د سورۀ بني اِسرائيل آيت: 79 كښې اِرشاد دے:

عَسٰۤى اَنْ یَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا۠ ﴿۷۹﴾

(پارہ:15، سورۂ بنی اسرائیل:79)

[مفهوم] ترجمۀ كنزُ العِرفان: نزدې ده چې ستا رَبّ به تا ته داسې مقام درعطا كړي چې هلته ټول ستا حَمد اوكړي۔

پۀ **حديثِ پاک** كښې دي: د رسولِ ذِيشان، مكي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پوښتنه اوكړے شوه: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! مقامِ محمود څۀ دے؟ وه يې فرمائيل: **هُوَ الشَّفَاعَةُ** هغه شفاعت دے۔ (2)

پۀ **حديثِ پاک** كښې دي: شفاعت كوونكي آقا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **شَفَاعَتِیْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَقٌّ** حق خبره دا ده چې زۀ به د قيامت پۀ ورځ شفاعت كووم **فَمَنْ لَّمْ يُؤْمِنْ بِهَا لَمْ يَكُنْ مِنْ اَهْلِهَا** څوک چې پۀ دې باندې اِيمان را نۀ وړي هغه به د دې قابِل نۀ وي۔ (3)

آج لے اُن کی پناہ، آج مدد مانگ اُن سے
کل نہ مانیں گے قیامت میں اگر مان گیا (4)

1... تفسير كبير، پاره:30، سورۂ ضحى، زيرِآيت:4، جلد:11، صفحه:194۔

2... ترمذى، كتاب تفسير القرآن، باب ومن سورة بنى اسرائيل، صفحه:724، حديث:3137۔

3... جامع صغير،صفحه:301، حديث:4896۔

4... حدائقِ بخشش، صفحه:56۔

د بني اِسرائيلو د شفاعت عقيده

اوس سوال دا دے چې کله د دې آيتونو او حديثونو نه دا ثابته ده چې د قيامت پۀ ورځ باندې به شفاعت هم کولے شي او دا شفاعت به قبلېږي هم نو بيا دا ولې وفرمائيلے شو:

لَا تَجْزِیْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَیْــٴًـا وَّ لَا یُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ (پاره:1، سورۀ بقره:48)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: پۀ کومه ورځ به چې يو کس هُم د بل له طرفه بدله نۀ ورکوي او نۀ به ځۀ سفارش منلے کېږي-

د دې سوال جواب دا دے چې پۀ اصل کښې پۀ دې ځائے کښې د بني اِسرائيلو د شفاعت د نظريې نفي کېږي، د بني اِسرائيلو نظريه ځۀ وه؟ هغوئي شفاعت ځۀ ګڼلو؟ الله پاک فرمائي:

وَ قَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّاۤ اَیَّامًا مَّعْدُوْدَةً (پاره:1، سورۀ بقره:80)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او هغوئي ووئيل: مونږ ته به وور نۀ رسېږي خو د شمېر يو څو ورځې-

يعني بني اِسرائيلو دا منل چې که مونږ هر ځۀ اوکړو ❁ که مونږ کلمه وايو او که نۀ وايو ❁ که مونږ د الله پاک پۀ حکمونو باندې عمل کوو او که نۀ کوو ❁ که مونږ نېکۍ کوو او که نۀ کوو ❁ که مونږ انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام شهيدان کړو ❁ که مونږه تورات شريف بدل کړو ❁ د رَبّ پۀ کلام کښې د ځانه خبرې شاملې کړو ❁ پۀ دُنيا کښې عېش اوکړو ❁ موج مستي کوو، که هر ځۀ کوو زمونږه بزرګان، زمونږه مشران د کومو چې مونږ اولاد يو، هغوئي به شفاعت اوکړي او مونږ به د دوزخ نه ازاد کړي، ځکه مونږ ته پۀ دوزخ کښې د شمار يو څو ورځې تېرول دي- [1] ګويا دوئي دا ګڼله چې پۀ جَنَّت زمونږه ټېکه داري ده،

1... تفسير کبير، پاره:6، سورۀ مائده، آيت:71، جلد:4، صفحه:406 خلاصةً-

ځکه د هغوئي د دې نظريې نفي اوکړے شوه او وفرمائيلے شو:

لَاتَجْزِیْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَیْـًٔا وَّلَا یُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ

(پاره:1، سورۀ بقره:48)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: پۀ کومه ورځ به چې يو کَس هُم د بل له طرفه بدله نۀ ورکوي او نۀ به ځۀ سفارش منلے کيږي-

يعنې داسې نۀ ده چې ❁ که تاسو هر ځۀ کوئ! ❁ کلمه هم نۀ لولئ! ❁ اِيمان هم نۀ قبلوئ! د نبيانو سپکاوے کوئ او مرتد هم شئ! ❁ د رَبّ د کلام تورات شريف سپکاوے هم کوئ، بيا به هم ستاسو شفاعت وشي او تاسو به جَنَّت ته لاړ شئ، نا، نا---!! داسې به هيڅ کله نۀ کيږي بلکې تاسو ته به نن، د دُنيا پۀ دې ژوند کښې پخپله ځان د جَنَّت حقدار جوړول وي-

د شفاعت عقيده ساتئ خو---

معلومه شوه چې مونږ اُمېد پۀ چا پورې هم نشو تړلے، نۀ خو دا کېدے شي چې د شفاعت پۀ اُميد باندې عمل پرېږدو او نۀ دا هم صحيح دي چې د عمل پۀ باور باندې د شفاعت نه اِنکار اوکړو، پۀ شفاعت باندې يقين هم ساتل دي او عمل هم کول دي وګورئ چې صحابۀ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوَان کوم چې پۀ ټولو اُمتونو کښې د ټولو نه د اوچتې مرتبې والا دي، دوئي زمونږ د پاره معيار دے، دې د اوچتو مرتبو حضراتو به پۀ شفاعت باندې يقين هم لرلو او ورسره ورسره به يې نېک اعمال هم کول-

❁ يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل شفاعت ذِکر وفرمائيلو، صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دُعا اوکړئ چې زمونږه هم شفاعت نصيب شي- حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوکړه: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُمْ مِنْ اَهْلِهَا اے کريم مالِکه! دوئي د شفاعت حقدار جوړ کړې- لږ ساعت پس

نور صحابۀ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوَان راغلل، وړومبنو هٰغه راتلونکو ته ووئيل نو هغوئي هم عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زمونږ د پاره هم دُعا اوکړئ! نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوکړه: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُمْ مِنْ اَهْلِهَا اے کريم مالِکه! دوئي هم د شفاعت حقدار جوړ کړې- بيا يې وفرمائيل: زۀ تاسو ګواهان جوړوروم او وايم چې څوک هم د شِرک (او کُفر) نه پاک د دُنيا نه لاړ شي، زما شفاعت د هٰغه ټولو د پاره دے- (1)

شَفاعت حشر میں فرماؤ گے جب خوش نصیبوں کی
مجھے کر لینا آقا اُن میں شامل یارسولَ اللہ ! (2)

دا د صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان د شفاعت پۀ باره کښې عقيده ده، بيا د هغوئي عمل ته وګورئ! ❁ دې د اوچتو مرتبو والا به ټوله ټوله شپه عبادتونه کول ❁ نفلي نمونځونه به يې کول ❁ نفلي روژې به يې نيولې ❁ د عِلمِ دِين د زده کولو ښودلو د پاره به يې ځان وقف کولو ❁ لرې لرې علاقو ته به تلل او د نېکۍ دعوت به يې عام کولو ❁ د الله پاک د وِيرې نه به يې اوښکې توئيولې ❁ د قرآنِ کريم پۀ آيتونو لوستلو يا پۀ اورېدو به وِيرېدل، د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د الله پاک نه وِيره مشهوره ده، د الله پاک د وِيرې نه پۀ ژړا ژړا د هغوئي پۀ مخ باندې اوښکو لاړې جوړې کړې وې او **د هغوئي فرمان هم مشهور دے:** حَاسِبُوْا قَبْلَ اَنْ تُحَاسَبُوْا خپله محاسبه پخپله اوکړئ ، مخکښې د دې نه چې ستا حِساب واخستلے شي- (3)

وګورئ چې يو طرف ته د صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان د شفاعت پۀ عقيده باندې پوخ اِيمان دے او بل طرف ته د هغوئي عمل مبارک څومره ښائسته او ښکلے دے-

دغه شان د اهلِ بيت پاک پۀ باره کښې هم مونږ اوس واورېدل: اِمامِ محمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

1... مصنف ابن شيبة، كتاب الجامع، باب من يخرج من النار، جلد:10، صفحه:244، حديث:21029 خلاصةً۔
2... وسائلِ بخشش، صفحه:336۔
3... تفسير روح البيان، پاره:15، سورۀ اسراء، زير آيت:14، جلد:5، صفحه:141۔

فرمائي: د ټولو اهلِ بيتو شريکه فيصله ده چې د قرآنِ کريم د ټولو نه د اُمېد والا آيت دا دے: (1)

وَ لَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى ۝۵
(پاره:30، سورۀ والضحى:5)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او بے شکه نزدې ده چې ستا رَبّ به تا ته دومره درعطاکړي چې تۀ به راضي شې-

ولې؟ ځکه چې پۀ دې کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت بيان دے- بل اړخ ته د اهلِ بيت پاک عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عمل مبارک ته وګورئ چې حضرت اِمام جعفر صادق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وړوکے شهزاده وو، عمر يې تقريباً 4 کاله وو، پۀ کوڅه کښې ولاړ وو او ژړل يې، يو عاشق وليدو، منډه يې کړه او حاضر شو، پوښتنه يې اوکړه: شهزاده! څۀ معامله ده؟ وه يې فرمائيل: د دوزخ وِېره مې ژړوي- عرض يې اوکړو چې شهزاده! تاسو خو لا وړوکے ماشوم يئ، تاسو خو د ګناهونو نه بالکل پاک يئ- وه يې فرمائيل: آؤ! خو ما ليدلي دي چې زما مور جانه چې کله وور بلوي نو وړومبے وړو وړو نرو لرګو ته وور ورته کوي، کله چې وور بل شي نو بيا ورپسې غټ لرګي کېږدي، زما سره وېره ده چې هسې نه دغه شان زۀ هم پۀ دوزخ کښې وا نۀ چولے شم- (2)

حضرت داؤد طائي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه کوم چې ډېر لوئي وليُّ الله وو، يوه ورځ هغوئي د اِمامِ جعفر صادِق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پۀ خِدمت کښې حاضر شو، عرض يې اوکړو: عالي جاه! ما ته څۀ نصيحت اوکړئ! وه يې فرمائيل: اے ابو سليمانه (داؤد طائي)! زۀ خو پخپله وېرېږم، که چرې د قيامت پۀ ورځ زما نيکه بابا جان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه چې اے جعفره! زما د پېروئ حق دې ولې ادا نۀ کړو نو زۀ به څۀ جواب ورکوووم؟ پۀ دې اوږدو حضرت

1... حلية الاولیا، رقم:224، جلد:3، صفحه:209، 210، حديث:3725۔
2... نيکی کی دعوت، صفحه:585و 586 خلاصتاً۔

داؤد طائي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ووئيل: چې د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اولاد دومره وږږي نو بيا زۀ څوک يم، زۀ څنګه پۀ خپلو اعمالو باندې باور کولے شم۔ (1)

اَللهُ اَكْبَر! هٰغه د اهلِ بيتو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عقيده ده چې ټول پۀ شريکه توګه پۀ شفاعت باندې يقين لري او دا د اهلِ بيتو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عمل مبارک دے چې هر وخت وږږي۔

❁ اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به پۀ شفاعت باندې يقين لرلو او اعمال يې څنګه وو؟ ټوله ټوله شپه به يې نفلونه کول، پۀ يو رکعت کښې به يې د ټول قرآنِ کريم ختم کولو، ټوله ټوله شپه به يې د الله پاک د وېرې نه ژړل۔ (2)

❁ دغه شان غوثِ پاک، شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ شفاعت باندې يقين لرلو، بيا يې هم د 40 کالو پورې د ماسخوتن پۀ اوداسۀ د سحر نمونځ ادا کړو، پۀ کلونو کلونو يې پۀ څنګلونو کښې مجاهدات اوکړل (3) ❁ حضرت خواجه اجمير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ شفاعت باندې يقين هم لرلو او د دې سره سره به يې ټوله شپه عبادت هم کولو ❁ بلکې لرې به څۀ څو، زمونږ پۀ دې سيمه برِّ صغير کښې د شفاعت د عقيدې پۀ هر ځائے کښې بيانوونکے اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے، هغوئ دومره پۀ خوږ انداز کښې د شفاعت عقيده بيان کړې ده چې د دې هډو مثال نۀ مېلاؤ وږږي، فرمائي:

کیا ہی ذَوْق اَفْزا شَفاعت ہے تمہاری واہ واہ
قرض لیتی ہے گُنہ پرہیز گاری واہ واہ (4)

وضاحت: يعنې يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تاسو به د قيامت پۀ ورځ دومره پۀ کمالي انداز کښې شفاعت کوئ چې د چا سره ګناهونه نۀ وي، هغوئ به هم غواړي چې د چا

1... كشف المحجوب، باب الثامن فی ذكر ...الخ، باب صفوة ابو محمد جعفر بن محمد بن علی ...الخ، صفحه:104۔

2... تاريخ بغداد، رقم:7297، النعمان بن ثابت، ما ذكر من عبادة ابی حنيفة و ورعه، جلد:13، صفحه:353۔

3... بهجة الاسرار، ذكر طريقه رضی الله عنه، صفحه:164 و165 ملتقطاً خلاصةً۔

4... حدائق بخشش، صفحه:134۔

نه قرض ګناهونه مېلاؤ شي د پاره د دې چې زمونږه هم شفاعت نصيب شي او مونږه هم د دې سعادت نه خوندونه اخستونکي جوړ شو-

دا د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د شفاعت عقيده ده، اوس يې لږ عمل ته وګورئ! هغوئ ټول عمر د جَمعې سره نمونځ اوکړو ❁ چې د جمعې سره نمونځ اوکړي، دې د پاره به هغوئ پېسې هم لګولې، د مال او د دولت نقصان به يې هم برداشت کولو خو د جَمعې سره نمونځ به يې نۀ قضا کولو ❁ يو ځل هغوئ ناروغه وو، تللے نۀ شو، پۀ داسې حالت کښې د جَمعې سره نمونځ معاف وي خو د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه جذبې ته وګورئ! پۀ داسې حالت کښې به هم هغوئ ټول نمونځونه د جَمعې سره ادا کول، هغوئ به پۀ کُرسۍ کښې کېناستو، 4 کسانو به کرسۍ مبارکه اوچتوله او هغوئ به يې جومات ته بوتللو او د جَمعې سره به يې نمونځ کولو- [1]

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه عظيمُ الشانه تقویٰ

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د ژوند مبارک اخري رَمَضَانُ الْمُبَارَک پۀ کال 1339 هجرۍ کښې وو، دا سخته ګرمي وه، بيا د عمر مبارک اخرۍ ورځې---!! هغوئ ناروغه هم وو- پۀ داسې حالت کښې شريعت اجازت ورکوي خو د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د خپل ځان پۀ باره کښې څۀ فتویٰ وه، واورئ! هغوئ وفرمائيل: پۀ بريلي شريف کښې د سختې ګرمۍ پۀ وجه زما د پاره روژې نيول ممکن نۀ دي خو پۀ غر کښې يخي وي، د دې ځائے نه نيني تال نزدې دے، پۀ بهوالي غر کښې روژه نيولے کېدے شي، زۀ هلته تللے شم، ځکه ما د پاره هلته روژې نيول فرض دي- نو هغوئ هٰغه رَمَضَانُ الْمُبَارَک هلته پۀ غر کښې تېر کړو او ټولې روژې يې ونيولې- [2]

1... فتاوٰی رضويه، جلد:9، صفحه:547۔

2... امام احمد رضا اور تصوف، صفحه: 64۔

خوب احکامِ شریعت کا وہ فرماتے خیال
اتباعِ دیں میں اُن کی ذات تھی روشن مثال
شرعی احکامات کے پابند تھے احمد رضا
اِس لئے تو اتنی دل آویز تھی اِک اِک ادا

سُبْحٰنَ اللّٰہ! څومره ښکلے شان دے---!! **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا سبق دے، د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په شفاعت باندې څومره یقین دے---؟ فرمائي:

حِرزِ جاں ذِکرِ شفاعت کیجئے! | نار سے بچنے کی صُورت کیجئے![1]

وضاحت: یعنې **اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** شپه او ورځ، سحر او مانښام د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شفاعت ذِکر کوئ! ولې؟ ځکه چې څوک شفاعت مني، د هغۀ شفاعت نصیب کیږي، لهذا د شفاعت ذِکر به د دوزخ نه د ازادۍ ذریعه جوړه شي-

پۀ یو بل ځائے کښې فرمائي:

گنہ گاروں کو ہاتف سے نویدِ خُوش مآلی ہے
مُبارَک ہو شفاعت کے لئے احمد سا والی ہے[2]

وضاحت: یعنې د غیب نه ګنهګارانو ته د ښه انجام زېرے ورکړے شوے دے، دا اِعلان شوے دے چې اے ګنهګارانو! مبارک شئ---!! مُحَمَّدِ مصطفٰے، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به ستاسو شفاعت کوي-

دا د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د شفاعت پۀ باره کښې عقیده وه او عمل مبارک ته یې وګورئ چې ټول عمر فرض خو فرض دي، واجب خو واجب دي چې هغوئ به پۀ سُنَّتو او مُستَحَبَّاتو باندې هم پۀ اِستقامت باندې عمل کولو-

---

1... حدائقِ بخشش، صفحہ:194۔

2... حدائقِ بخشش، صفحہ:183۔

د دې نه معلومه شوه چې دواړه خبرې ضروري دي: د شفاعت عقيده هم پخه ساتل دي او ورسره ورسره عمل هم لازمي کول دي-

عمل به پۀ کار راځي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! شفاعت هم حق دے، د الله پاک رحمت هم حق دے، د دې هر څۀ باوجود نېک اعمال ډېر ضروري دي ځکه چې د قيامت د اِمتحان اصلي بنياد هُم پۀ اعمالو اېښودے شوے دے- د قيامت پۀ ورځ به زمونږ نه زمونږه د اعمالو پۀ باره کښې پوښتنه کولے شي، اعمال به تللے شي، اعمال نامې به پرانستے شي، د الله کريم پۀ دربار کښې به حاضري کيږي او ضرور به کيږي، الله پاک فرمائي:

فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ ۙ﴿۶﴾ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ؕ﴿۷﴾ وَ اَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ ۙ﴿۸﴾ فَاُمُّهٗ هَاوِيَةٌ ؕ﴿۹﴾ وَ مَاۤ اَدْرٰىكَ مَا هِيَهْ ؕ﴿۱۰﴾ نَارٌ حَامِيَةٌۢ ﴿۱۱﴾

(پاره:30، سورۃ القارعہ:6-11)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نو بهر حال د چا تله چې به درنه وي- هغه خو به د خوښې پۀ ژوند کښې وي- او بهر حال د چا تله چې سپکه پرېوځي- نو د هغۀ ځائے به هاويه وي- او تا ته څۀ معلوم چې هغه څۀ دي؟ لـمبې وهونکے وور دے-

معلومه شوه چې د چا نېکۍ ډېرې وي، د عمل پۀ تله باندې چې به د چا د نېکو چاپېرے درومد وي، هغۀ ته به جَنَّت عطا کولے شي او هغه به د خوښې پۀ ژوند کښې وي او څوک چې پۀ دُنيا کښې پۀ باطِل پسې تلے وي، څوک چې ګنهګار وي، د چا ګناهونه چې زيات وي، نېکۍ يې کمې وي، که د الله پاک رحمت پرې وه نۀ شو نو داسې ګس به د قيامت پۀ ورځ د دوزخ خشاک جوړيږي-

خدائے قہار ہے غضب پر، کُھلے ہیں بدکاریوں کے دفتر
بچالو آکر شفیعِ محشر، تمہارا بندہ عذاب میں ہے[1]

وضاحت: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د قیامت ورځ ده، نن د الله پاک د انتهائي غضب اِظهار دے، زما د ګنهګار اعمال نامه پرانستے شوې ده، اے شفاعت کوونکي آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! راشئ او بچ مې کړئ! ستاسو غلام پۀ عذاب کښې راګیرېدونکے دے-

د قیامت وحشتناک منظرونه

الله! الله! هٰغه د قیامت وحشتناکه ورځ-- پۀ هٰغه ورځ به زمکه د اوسپنې وي ❁ نمر به پۀ یو میل فاصله باندې وي، الله! الله! ❁ نن نمر پۀ 4 کروړه میله فاصله باندې دے او زمونږ طرف ته د هغۀ شا ده، بیا چې هم کله بالکل پۀ سر باندې د پاسه راشي نو د کور نه بهر وتل ګران شي، پۀ هٰغه ورځ باندې به نمر پۀ یو میل فاصله باندې وي او د هغۀ مخ به زمونږ طرف ته وي ❁ نن د خاورې زمکه ده خو پۀ ګرمۍ کښې پۀ زمکه باندې ښېې نۀ اېښودلے کیږي، پۀ هٰغه ورځ به زمکه د اوسپنې وي، نمر چې دومره نزدې وي نو هٰغه وخت د تاؤ او د ګرمۍ حال څوک بیانولے شي؟ هې هې! دماغ به خوټکیږي، دومره ډېره خوله به ځي چې ❁ پۀ 70 ګزه زمکه کښې به جذب شي، بیا چې کومه خوله زمکه نشي څښلے هغه به بره راخپژي ❁ د چا به د ګیټو پورې وي ❁ د چا به د زنګونانو پورې وي ❁ د چا به د ملا پورې ❁ د چا به د سینې پورې ❁ د چا به د مرۍ پورې او ❁ د غېر مسلمو خو به د خُلو پورې وي، چې هغوئي به پکښې غوپې خوري، بیا د هٰغه ګرمۍ پۀ حالت کښې چې به د تندې کوم حالت وي اَلْاَمَان وَالْحَفِيْظ! ژبه به د تندې نه وچه شي او ازغنه به شي، د ځینو خلقو ژبې به د خُلو نه بهر راوتې وي، زړونه به وِیلي کیږي او خُلې له به راځي، هر

1... حدائقِ بخشش، صفحہ:181۔

څوک به د خپلو ګناهونو مطابق پۀ تکليف کښې اخته وي- [1] دا د حساب ورځ ده، دا د عدل او د اِنصاف ورځ ده، پۀ دې ورځ به هر طرف ته د نفسي نفسي حالت وي، څوک به د چا پوښتنه نۀ کوي، پۀ قرآنِ کريم کښې دي:

يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ اَخِيْهِۙ(۳۴) وَ اُمِّهٖ وَ اَبِيْهِۙ(۳۵) وَ صَاحِبَتِهٖ وَ بَنِيْهِؕ(۳۶) لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَاْنٌ يُّغْنِيْهِؕ(۳۷)

(پاره:30، سورۀ عبس:34-37)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: پۀ هٰغه ورځ به سړے د خپل ورور نه تښتي- او د خپلې مور او خپل پلار- او د خپلې ښځې او د خپلو ځامنو نه- د هغوئي نه به هر ګس سره پۀ هٰغه ورځ يو داسې فِکر وي چې هغه به (د نورو نه) بے پروا کړي-

نہ بیلی ہو، سگے بھائی، نہ بیٹا، باپ تے مائی
تُو کیوں پھرتا ہے سودائی، عمل نے کام آنا ہے

زۀ کوم څيز راوروستو کړم؟

صحابیِ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: د قيامت پۀ ورځ چې به کله د دوزخ د پاسه پل صراط وغوړولے شي، خلق به پۀ دې باندې تېرېږي، **د هر يو رفتار به د هغۀ د اعمالو مطابق وي** ❁ ځينې خلق به د بجلیِ پۀ رفتار تېرېږي ❁ ځينې به د هوا پۀ رفتار تېرېږي ❁ ځينې به د مرغو پۀ رفتار تېرېږي ❁ ځينې به د ځناورو پۀ رفتار روان وي او تېرېږي به ❁ ځينې به پۀ منډه روان وي ❁ د دې پورې چې يو ګس به پۀ خِيټه باندې خوئيږي او تېرېږي، هغه به (پۀ خپل دې حالت باندې پرېشانه وي او) وائي به: اے زما رَبَّه تا زۀ دومره وروستو ولې کړم؟ الله پاک به هغۀ ته فرمائي: ما تۀ نۀ يې وروستو کړے بلکې

1... بہار شریعت، جلد:1، صفحہ:132 تا 134، حصہ:1 بتغیر قلیل۔

ستا اعمالو تۀ وروستو کړے يې۔ [1]

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! معلومه شوه چې د قيامت پۀ ورځ باندې به د اعمالو ډېر اهميت وي، څوک چې کاميابي مومي نو د نېکو پۀ ذريعه به يې مومي او څوک چې وروستو پاتې کيږي نو هغه به د خپلو ګناهونو پۀ وجه باندې وروستو پاتې کيږي۔

درې دوستان

پۀ حديثِ پاک کښې دي: د مړي سره درې څيزونه ځي، دوه واپس راځي او يو د هغۀ سره پاتې کيږي۔ (1): د هغۀ کور والا او بال بچ (2): د هغۀ مال او (3): د هغۀ عمل ورسره ځي، بيا مال او کور والا او بال بچ (Family)خو واپس راځي خو د هغۀ عمل هُم د هغۀ سره پاتې کيږي۔[2]

ہائے غافل وہ کیا جگہ ہے جہاں
پانچ جاتے ہیں چار پھرتے ہیں

وضاحت: آه! اے غافله---!! غور خو اوکړه چې هٰغه څومره د عِبرت ځائے دے، چرته چې 5 ځي: يو مړے او 4 اوچتوونکي خو د هلته نه واپس صرف 4 واپس راځي، مړے قبر ته کوزولے کيږي۔

پۀ يو روايت کښې دي: يوه ورځ د الله پاک اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: ستاسو، ستاسو د کور والا او بال بچ، مال او اعمالو مثال د هٰغه ګس پۀ شان دے، د چا چې درې خوارۀ دوستان وي، کله چې د هغۀ د مرګ وخت رانزدې شي نو هغه خپل درې واړه دوستان راوبلي او يو ته ووائي: تۀ زما حالت وينې، دا ووايه چې تۀ زما د پاره څۀ کولے شې؟ هغه جواب ورکوي: زۀ ستا د پاره دومره کولے شم چې في الحال ستا تپوس اوکړم، ستا

1... باب كيف الجواز على الصراط و صفته...الخ، صفحه:299 بتغير قليل۔

2... بخاری، كتاب الرقاق، باب سكرات الموت، صفحه:1599، حديث:6514۔

سره ایسار شم او ستا ضرورتونه پوره کړم، بیا چې کله ټۀ وفات شي نو تا له غُسل درکړم او کفن درته واچووم او د خلقو سره پۀ شریکه ستا جنازه اوچته کړم چې کله زۀ اوګه درکووم او کله بَل ګس، کله چې (تا دفن کړم او) واپس راشم نو څوک چې ستا پۀ باره کښې پوښتنه اوکړي د هغۀ پۀ مخکښې ستا نېکی بیانووم- دا دوست د هغۀ کور والا او بال بچ دے- بیا هغه خپل دوہم دوست ته ووائي: ټۀ هم زما حالت وینې، ټۀ زما د پاره څۀ کولے شې؟ نو هغه پۀ جواب کښې وائي: زۀ به د هٰغه وخته پورې ستا ملګرتیا کووم د څو پورې چې ټۀ ژوندے یې، څنګه چې ټۀ وفات شي نو زمونږه لارې به جُدا شي ځکه چې ټۀ به قبر ته ورسېرې او زۀ به هم دلته پۀ دُنیا کښې پاتې شم- دا دوست د هٰغه ګس مال دے- بیا هٰغه ګس خپل درہم دوست ته ووائي: یقیناً چې ټۀ هم زما حالت وینې او تا زما د کور والا او د بال بچ او مال جواب هم اورېدلے دے، ووایه! ټۀ زما د پاره څۀ کولے شې؟ هغه هغۀ له تسلي ورکوي او وائي: زما دوسته، زۀ خو به پۀ قبر کښې هم ستا سره یم او تا به د وحشت نه بچ کووم او کله چې د حساب ورځ راشي نو زۀ به ستا پۀ تله کښې کښېنم او هغه به وزن داره کووم- دا دوست د هغۀ عمل دے- صحابۀ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دا خو ډېر ښۀ دوست دے- نبي پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: دا حقیقت دے۔ [1]

عمل ته ملا کلکه وترئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د دې روایتونو نه معلومه شوه چې اګر چې شفاعت هم حق دے، د الله پاک رحمت هم حق دے، هٰغه رَبِّ رحمان به پۀ خپلو بندګانو باندې ضرور رحمت فرمائي، محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د خپلو غلامانو شفاعت هم کوي خو د دې مطلب هیڅکله هم دا نۀ دے چې مونږ نېک اعمال پرېږدو، هیڅ عمل نۀ کوو او کښېنو، رحمت او

1... کنز العمال، کتاب الموت، جز:15، جلد:8، صفحہ:318، حدیث:42974 ملتقطًا۔

شفاعت ته مو سترکې وي او ګناهونه ښه ډاډه کوو، نا--!! نا، د نېک اعمالو ډېر ضرورت دے ځکه چې د قيامت د اِمتحان اصلي بنياد هم پۀ اعمالو باندې اپښودے شوے دے، ځکه مونږ له پکار دي چې د نېک اعمالو طرف ته توجه اوکړو، د هرې ورځې نه وړه او د لوئي نه لوئي نېکي هر وخت کوو، يوه نېکي هم کمه نۀ ګڼو- **پۀ حديثِ پاک کښې دي:** نبي کريم رؤف رحيم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوْفِ شَيْئًا، وَلَوْ اَنْ تَلْقٰى اَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ يعني يوه نېکي هم کم تره مۀ ګڼئ--! اګر چې د خپل (مسلمان) ورور سره پۀ رونې تندي(د زړۀ پۀ خوشحالۍ)د مېلاؤېدو نېکي وي- [1]

الله پاک دې مونږ ته د شفاعت پۀ عقيده باندې د پوخ ايمان لرلو، د الله پاک د رحمت د پوره اُمېد لرلو او ورسره ورسره د نېک کارونو کولو، د ګناهونو نه د بچ کېدو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

بهارِ شريعت موبائل ايپلي کښې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي د جديد ټېکنالوجۍ پۀ ذريعه هم پۀ مختلف انداز کښې د نېکۍ د دعوت پۀ عام کولو کښې مصروف دے، دې لړ کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د **I.T** ډيپارټمنټ له خوا ډېر ښکلے، ځانګړے او ډېر فائده مند موبائل ايپلي کښې د **بهارِ شريعت** (**Bahar e shariyat**) پۀ نوم جاري کړے شوے دے ❁ د صدر الشّريعه، مولانا امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د ډېر اعلیٰ کتاب **بهارِ شريعت** درې واړه جلدونه پۀ دې ايپلي کښې شامل کړے شوي دي ❁ د دې نه علاوه پۀ بهارِ شريعت کښې شامل د قرآنِ پاک آيتونه، حديثونه، اصطلاحات او لغت د دې ايپلي کښې حصه ده ❁ تاسو پۀ ايپلي کښې کښې متن هم لټولے شئ ❁ د سرچ نور ښه کولو

1... مسلم، كتاب البر و الصلة والآداب، باب استحباب طلاقة الوجه عند اللقاء، صفحه:1014، حديث:2626۔

د پاره پۀ دې کښې د اُردو کې بورډ سهولت هم موجود دے د پاره د دې چې پۀ ایپلي کېشن کښې پۀ لټون کښې اساني وي۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د بیان پۀ اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

صحیح څۀ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ کوته کول)

مسئله: پۀ غلطۍ سره خوړلے قَسم هم قَسم دے، که مات کړے شو نو کفاره به یې وي۔

وضاحت: پۀ معاشره کښې لیدلے کېدونکې عامه یوه غلطي ده، عام طور خلق داسې قِسمه پوښتنې هم کوي، د چا چې پۀ وړه وړه خبره باندې د قَسم خوړو عادت وي، هغوئ بعضې وخت پۀ ناخوښۍ کښې هم قَسم خوري، بیا د مشکل سره مخ کیږي،مسئله پۀ ذِهن کښې کښېنوئ! د راتلونکې څۀ خبرې کوم قَسم هم خوړلے کیږي، هغې ته مُنعَقِدَه وئیلے شي ، داسې قِسمه قَسم که پۀ غلطۍ خوړلے شوے وي او که قصداً عمداً پۀ دواړو حالتونو کښې د دې پوره کول لازمي دي، که مات کړے شو نو کفاره به لازم وي، مثلاً: وئیل یې غوښتل چې زۀ به اوبۀ څښم- د خُلې نه یې ووتل چې پۀ خُدائے مې دې قَسم وي! زۀ به اوبۀ نۀ څښم- دا قَسم شو، که مات یې کړو نو بیا به کفاره لازم شي۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1... بہارِ شریعت، جلد:2، جز:9، صفحہ:299 و 300 ملتقطًا۔

د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

يَامَانِعُ،يامُعطِي (اے منع کوونکیه، اے عطا کوونکیه)

چې ښځه خاؤند د يو بل نه خفه شي نو که ښځه خفه وي نو خاؤند او که خاؤند خفه وي نو ښځه دې د اودۀ کېدو نه مخکښې پۀ بستره باندې کښېني او 20 کرته دې يَامَانِعُ،يامُعطِي ولولي اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! روغه به يې وشي۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... مدنی پنج سوره، صفحه:258۔